# لاَ تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يَمُرَّ الرَّجُلُ بِقَبْرِ الرَّجُلِ فَيَقُولُ: يَا لَيْتَنِي مَكَانَهُ». «تر هغه پورې قيامت نه قايميږي تر دې چې يو سړی به د خپل ورور په قبر تېر شي او وبه وايي، کاش چې زه د دې پر ځای وم

له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: «لاَ تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يَمُرَّ الرَّجُلُ بِقَبْرِ الرَّجُلِ فَيَقُولُ: يَا لَيْتَنِي مَكَانَهُ». «تر هغه پورې قيامت نه قايميږي تر دې چې يو سړی به د خپل ورور په قبر تېر شي او وبه وايي، کاش چې زه د دې پر ځای وم».
[(صحيح] [متفق عليه دی ( بخاري اومسلم دواړو روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم خبر ورکړ چې قيامت تر هغه پورې نه قايميږي تر دې چې يو سړی به په يو قبر تېر شي نو ارمان به وکړي چې کاشکې د مړي پر ځای وای، او لامل به يې په خپل ځان وېره وي چې هسې نه د باطل او د باطل پرستو د بريا او د فتنو، ګناهونو او منکراتو د ښکاره کېدو په صورت کې ترې دين لاړ نشي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/65022

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee